# په اسلام آباد کښې
# دوه پرله پسې ادبي غونډې

سعد الله مېوند

د ګل په ورځ د مارچ په دوهمه کال ۲۰۰۹ په اسلام آباد کښې د اکېډمي ادبيات پاکستان په يوۀ وړوکي تالار کښې د پښتو ادبي سوسايټۍ له خوا د مطيع الله قريشي د څلورم شعري کتاب "ګل مخونه کاڼي زړونه" د مخکتنې تابيا شوې وه، د يادونې وړ ده چې نوموړې شعري ټولګه هم دغې سوسائټۍ د تېر کال په نومبر کښې خوره کړې وه.

د غونډې د نظامت چارې د نوموړي شاعر اقبال حسين افکار په غاړه وې چې د خپلې مقدماتي وينا څخه وروستو ئې د غونډې صدر ښاغلي غازي سيال او مشرانو مېلمنو هر يوۀ علي اکبر سيال، حکيم عبد الرحمان بېتاب، مجبور سوراني، عبدالجبار حامد او د کتاب مؤلف مطيع الله قريشي ته بلنه ورکړه. له دې وروستو د غونډې باقاعده پېل د قرآن کريم په څو مبارکو آيتونو سره د سردار يوسفزي په تلاوت کښې وشو.

د مخکتنې په دغه پروګرام کښې علي اکبر سيال، سعد الله مېوند، عبدالجبار حامد او مجبور سوراني مقالې او ښاغليو خالد خان، سردار يوسفزي او محمد احمد نظمونه ولوستل چې هم پکښې "د ګل مخونه کاڼي زړونه" او هم د کتاب د مؤلف په شخصيت خبرې وشوې. په ټوليزه توګه د کتاب شاعري وستائيل شوه او د کتاب د غزل په برخه د کره کتنې سره سره شاعر ته د غونډې د ټولو ګډون والو له خوا ډاډ او نيکې هېرزوينې وړاندې شوې.

د يادونې وړ ده چې په دغه مازيګرني ادبي پروګرام کښې د پښتو ادبي سوسائټي اسلام آباد، پښتون کلچرل ايسوسي ايشن او اجرستاني ادبي ټولنې اټک يو ګڼ شمېر ملګرو برخه اخستې وه چې متاسفانه د ټولو نومونه مې ياد ته نۀ راځي. په آخر کښې د غونډې رئيس ښاغلي غازي سيال، غونډه وستائيله او د ښاغلي مطيع الله قريشي د کتاب "ګل مخونه کاڼي زړونه" ئې د پښتو شعري بهير دپاره يوه نوې ګلدسته او هنري سرمايه وبلله. غونډه د ماښام له اذان سره جُخته پائې ته ورسېده.

د زيارت په ورځ د مارچ په پنځمه کال ۲۰۰۹ په اسلام آباد کښې د نړيوال اسلامي پوهنتون د پښتون سټوډنټس فېډرېشن له خوا د يوې سترې پښتو مشاعرې اهتمام شوے ؤ، د يادونې وړ ده چې د مشاعرې ګډون والو ته د شپې د ډوډۍ تياري هم شوې وه.

مشاعره ماسختن نزدې لس بجې د نوموړې فېډرېشن د جوائنټ سېکټر عبدالرحيم وزير له خوا چې د سټېج چارې ئې تر سره کولې، د قرآن کريم په څو مبارکو آيتونو پېل شوه، کۀ څۀ هم دغه مهال لا د غونډې رئيس حاجي غلام احمد بلور نۀ ؤ راغلے د مشاعرې د چلونکي له خوا د مشاعرې مشران

مېلمانهٔ پروفېسر اباسين يوسفزے، حکيم عبدالرحمان بېتاب او اکبر سيال ستېج ته وبلل شول او په خپلو کرسو کښېناستل او د کوربه کرسۍ د نومـوړي فېډرېشن مشر ښاغلي ناصرمحمد يوسفزي ته وسپارل شوه.

کۀ څۀ هم د دغې سترې مشاعرې د موخو په ارتباط نۀ کومه مقاله وړاندې شوه او نۀ هم مفصلې شفاهي خبرې وشوې خو په هم دغه ورځ چې د پېښور په هزارخوانۍ کښې د انسانيت او مينې شاعر عبدالرحمان بابا په مزار بريد شوے ؤ او د چاودنو په ترخ کښې ئې مزار ته تاوان رسولے ؤ د غندنې يو لنډ قرارداد وړاندې شو او بيا د مشاعرې لړۍ پېل شوه.

حقيقتاً چې په اسلام آباد کښې د نومـوړي پوهنتون د پښتنو محصلينو (طالبعلمانو) له خوا دغه ډول علمي او ادبي پروګرامونه جوړول د زياتې ستائينې وړ دي مونږ کۀ له يوې خوا د پوهنتون په آډيټوريم کښې د دغو پښتنو محصلينو (طالبعلمانو) په څېرو کښې د بې انتها پښتنو ولولو ننداره کوله له بله پلوه د هغوي په سرونو د خدائي خدمتګارو سرو ټوپيو او سرو پټو يو ځانګړے خوند او جذبه پېدا کړې وه چې سمدستي ئې هر نندارچي ته د خدائي خدمتګار د عظيم رهبر فخر افغان باچا خان بابا انساني او قامي مينه وريادوله او دا خبره ترې زباتېدله چې پښتانۀ طالب علمان په شعوري توګه غواړي د هغوي له روح او شخصيت څخه ځان خبر وساتي او دغه سپېڅلې تګلاره ترپايه وپالي. دغه ستره مشاعره چې د ګډون والو شمېره به ئې نزدې څلورو سوو تنو ته رسېده د پوهنتون مرکزي هال ئې ښۀ ډک کړے ؤ چې د نړيوال اسلامي پوهنتون له محصلينو څخه علاوه پکښې د قائد اعظم پوهنتون د پښتون کونسل غړي او د پښتونخوا ملي عوامي پارټۍ طالبعلمانو هم ګډون کړے ؤ.

د يادولو وړ ده چې د شپې په ۱۲ بجو د مشاعرې صدر، د رېلوې وفاقي وزير او د عوامي نېشنل پارټۍ مرکزي صدر ښاغلي حاجي غلام احمد بلور هال ته تشريف راوړو چې د مشاعرې د ګډون والو له خوا ئې تود هرکلے شو.

د مشاعرې مشرانو مېلمنو او ناستو شاعرانو په خپل وار ښکلې خبرې او خپل غوره کلامونه واورول. هر يو د پښتون سټوډنټس فېډرېشن غړيو ته داد ورکړو او په اسلام آباد کښې ئې د دغه ډول سترې مشاعرې رابلل له خپلې مورنۍ ژبې سره د هغوي پې کچه مينه وبلله او هر يوه ته ئې مبارکي ورکړه.

په آخر کښې د غونډې او مشاعرې صدر، حاجي غلام احمد بلور په خپله هر اړخيزه وينا کښې د پښتون قام په سياسي مسائلو رڼا واچوله، د پښتونخوا د نوم يادونه ئې وکړه، زياته ئې کړه چې مونږ به هېڅکله هم هېچا سره په خپلو عظيمو قامي اقدارو او حقوقو سودا ونۀ کړو، مونږ ته وزارتونه او ظاهري مقامونه کوم حېثيت نۀ لري، بلکې د خپلې مورنۍ ژبې پرمختګ او په خپلو قامي اقدارو رښتينې واک زمونږ اصلي پاليسي جوړوي. په پائې کښې ئې د خدائے بخښلي قلندر مومند يادونه وکړه او د نوموړي په څو ښکليو شعرونو ئې خپله وينا پائې ته ورسوله.

د مشاعرې په آخر کښې د صدر او مشرانو مېلمنو په لاسونو پروفېسر اباسين يوسفزي، حکيم

عبدالرحمان بېتاب، خان ولي خان بشرمل، سردار يوسفزي، خالد خان، شېرجان تكل، روح الامين يوسفزي، اكبر سيال، ظفر خان ظفر، اقبال حسېن افكار، سعدالله مېوند او يو شمېر نورو قدرمنو شاعرانو ته چې متاسفانه زۀ ئې د نومونو په ياد بريالے نۀ شوم اعزازي شيلډونه وركړل شول.